مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري ۲۰۱۹/۰۶/۱۶

# د افغانستان معما

ښاغلی امین سیکل د جون پر ۱۳ کي لیکي د افغانستان مغلق حالت ښایي یوازي د امریکا او روسیې په موافقې باندي فیصله نه سي، بلکي ښایي دا ضرور وي چي د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا پنځه دایمي غړي هم یوې اجماع ته سره ورسیږي، او بیا یوه داسي موافقه عملي کړي چي په نتیجه کي افغانستان باثباته کړي.
پروفسور سیکل ادامه ور کوي او لیکي د ۲۰۱۸ په جنوري کي اشرف غني په عام محضر کي اعتراف وکړ چي د امریکا له حمایته پرته به یې حکومت دوام و نه کړي. نن سبا هم د هغه هماغه اقرار ښېخي صدق کوي. د افغان حکومت بې نظمه او ګډوډ دی، او د افغان اردو مازي طالبان له ځانه لیري ساتي.
بلخوا، جمهوررییس ترمپ غواړي چي له افغانستانه راووزي. البته که چیري ممکنه وي، هغه غواړي چي د یوې سیاسي مصالحې په چوکاټ کي دا هدف تر لاسه کړي. نو لهذا، طالبان داسي فشار نه ویني چي امریکا او د افغان حکومت داسي مفت ایله کړي.
واضح خبره ده چي د افغانستان مشکل نظامي نه دی، او د هیواد خرابېدونکي امنیتي حالت سیاسي او سمیه ایز فکتورونه لري. له بده مرغه، د هغه وخت راهیسي چي امریکا په افغانستان کي نظامي مداخله کړې ده، افغانستان داسي تکړه سیاسي لیدرشیپ نه دی پیدا کړی چي لدي مشکلاتو سره مبارزه وکړای سي. نه حامد کرزي او نه هم اشرف غني دا خلا ډکه کړې ده.
غرب تمه درلوده چي دا مشران به د شخصي قدرت پر ځای ملي وحدت تقویه کاندي، خو هغوی په عوض کي ـــ تفرقه واچوه او حکومت وکړه ـــ پالیسي غوره کړه. هغوی په افغانانو کي سمتي او قومي اختلافات راوپارول، پراخ اداري فساد او بدي حکومتوالی ته یې لاره اواره کړه. حامد کرزي او اشرف غني دواړو د کاذبي دیموکراسی تر شا یوازي د خپل شخصي اقتدار او نفوذ د پراخولو لپاره کار وکړ، او شخصي ګټو ته یې پر ملي منافعو باندي ترجیح ور کړه.
نو لهذا، هیڅ د حیرانتیا خبره نده چي د افغان حکومت له ۲۰۰۱ راهیسي کمزوری او په تمامه معنی د امریکا پر چندي او حمایت باندي تړاو لري. همدا سبب دی چي افغانستان د خپلو ګاونډیانو د حرص قرباني دی، په تېره بیا د پاکستان، د سترو طاقتونو د رقابت او د سیمه ایزو ملکونو د سیالیو میدان ګرځېدلی دی.
اوس د افغانستان په کشاله کي هند او پاکستان، ایران او سعودي عربستان، د امریکا او ایران تر مینځ دوښمني، د پاکستان او چین تر مینځ دوستي، د هند او امریکا تر مینځ دوستي، او بالاخره د امریکا او روسیې تر مینځ رقابت نقش لري.
پدې وروستیو وختونو کي، د افغانستان د آراملو لپاره د امریکا هلي ځلي تر اوسه پوري کامیابه سوي نه دي. تر اوسه پوري خلیلزاد چندان پر مختګ نه دی کړی. د خلیلزاد د نه موفقیت یو سبب دا دی چي قریب دیرش کاله کېږي چي هغه د افغانستان په مسایلو کي ښکېل دی. اشرف غني پر خلیلزاد باندي باور نه لري. خلیلزاد ایران حذف کړی دی. مسکو او اسلام آباد خلیلزاد ته د شک په سترګه ګوري. ځکه خلیلزاد پخوا پر پاکستان او مسکو باندي زیات انتقادونه کړي ول.
اوس نو، که چیري په افغانستان کي د سولي او ثبات د راوستلو لپاره امریکا او روسیه ناکامه سي، د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا پنځه دایمي غړي باید پدې برخه کي یوې اجماع ته سره ورسیږي، او دا مسله بین المللي سولي ته یو تهدید وګڼي. د هغوی هدف باید وایي چي د افغانستان ګاونډیان دېته وهڅوي چي په افغانستان کي د نیابتي جګړو څخه لاس په سر سي. څو له یوې خوا د امریکایي قواوو د منظم خروج سره مرسته وسي، او له بلي خوا د افغانستان جیوپولیتکه بې طرفي تضمین سي.
خو دمګړی دېته اړتیا سته چي پر افغان مشرانو باندي فشار واچول سي، څو د خپل ځان او وطن لپاره ملي اجماع ته سره ورسیږي. خو له بده مرغه، دا اجماع ښایي د افغان ځوربدلي ولس لپاره په مناسب وخت کي تر سره نه سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ